هفته نامه **معارف** اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۱۸) ماه شعبان المعظم ۱۴۴۷ هـ ق. مطابق ماه دلو ۱۴۰۴ هـ ش.

**بدل عواقب خوبی ندارد و حتی الامکان از آن اجتناب شود در صورت بدل، تعیین و پرداخت مهر ضروری است، علمای کرام در مورد کراهیت بدل به مردم اگاهی بدهند.**

فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی در مورد جلوگیری از رواج های نادرست هنگام خویشی، عروسی ها، مصیبت ها و همچنان بازگشت از حج و عمره

# د پوهنې محترم وزیر د یو شمېر ولایتونو له علماء کرامو سره وکتل

د پوهنې وزیر محترم الحاج مولوي حبیب الله آغا په خپل کاري دفتر کې د هرات ولایت د کرخ ولسوالۍ شیخ الاسلامیه مدرسې له مهتمم، د بغلان ولایت د نهرین ولسوالۍ دارالعلوم له مهتمم محترم استاد حبیب‌الله، د تخار ولایت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د مدرسې سرمدرس محترم رضی الله، د کابل ښار د سر کوتل سیمې د عمر فاروق رضی الله عنه د



مدرسې سرمدرس محترم مولوي کفایت الله او د کابل ښار د عمریه مدرسې سرمدرس محترم محمد یاسین فاروقي سره وکتل او له هغوی سره یې د تعلیمي وضعیت په اړه خبرې وکړې.

ورپسې د علماءکرامو له دلې یو تن د نورو په استازیتوب خبرې وکړې او د پوهنې له محترم وزیر څخه یې ددې ارزښتناکه لیدنې له امله مننه او قدرداني وکړه.

## د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین محترم معین غزني ولایت ته سفر وکړ

د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین معین محترم الحاج مولوي عبدالخالق صادق غزني ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې د یاد ولایت د پوهنې له رئیس محترم الحاج مولوي میر نصیر احمد حسیني او یو شمېر مسئولینو سره وکتل.

په دغه کتنه کې دواړو لوریو د پوهنې اوسني وضعیت په مرکز او ولسوالیو کې د ښوونیز بهیر، د تعلیمي کیفیت لاښه والي او په ښوونیزه برخه کې د وروستیو مثبتو بدلونونو په اړه په تفصیل سره خبرې وکړې.

دغه راز د پوهنې مسئولینو ترمنځ د ښوونکو مسلکي ورتیا لوړول، د ښوونیزو چارو ښه تنظیم، د تعلیمي مرکزونو ستونزې او د کیفیت تضمین میکانیزمونو په تړاو هم خبرې وشوې....

۲مخ



## په څلورو ولایتونو کې د څه باندې یو میلیارد افغانیو په لګښت د تعلیمي مرکزونو د جوړولو او بیارغوني پروژې پلې کېږي

د پوهنې وزارت د ودانیو او ملکیتونو د ساتنې او مراقبت رئیس محترم مولوي سمیع الحق حماس وایي د یاد ریاست د پلان او د پوهنې وزارت محترم مشرتابه د پرېکړې له مخې، د دې اداري د انجینرانو یوه دله بغلان،کندز، تخار او بدخشان ولایتونو ته سفر کړی ترڅو د ښوونیزو او اداري مرکزونو د ودانیزو پروژو (جوړولو او بیارغوني) د پلي کولو له بهیر څخه څارنه وکړي.

ښاغلی حماس وایي په بغلان ولایت کې، د تعلیمي او اداري مرکزونو د بیارغوني لپاره ۱۲ پروژې د اسلامي امارت له بودجې څخه د ۵ میلیونه ۴۶۱ زره ۶۵ افغانیو په ټولیز لګښت او د ۲۱۰ میلیونه ۱۳۳ زره ۹۳۵ افغانیو په لګښت د بیارغوني په کډون ۱۱۰ پروژې چې د همکارو ادارو لخوا تمویلېږي، ځینې بشپړې او یو شمېر د جوړېدو په حال کې دي.

همداراز هغه زیاته کړه: په کندوز ولایت کې، د ښوونیزو ادارو د بیارغوني لپاره ۱۰ پروژې چې ټولټال ۵ میلیونه ۸۷۶ زره او ۸۸۹ افغانۍ لګښت لري، د اسلامي امارت له بودجې څخه او د ۲۹ پروژې چې ټولټال ۱۱۶ میلیونه ۹۹۲ زره او ۶۰۰ افغانۍ لګښت لري، د همکارو ادارو لخوا تمویلېږي، بشپړې شوي یا تر کار لاندې دي.

نوموړي په تخار ولایت کې هم د ښوونیزو پروژو د پلي کېدو په اړه معلومات ورکړل او وې ویل: د تعلیمي مرکزونو بیارغولو لپاره ۸ پروژې چې ټولټال ۶ میلیونه ۱۰۰ زره ۶۹۰ افغانۍ لګښت لري، د اسلامي امارت له بودجې څخه او ۴۲ پروژې چې ټولټال ۶۷۴ میلیونه، ۷۸۸ زره او ۳۱۶ افغانۍ لګښت لري، د همکارو ادارو لخوا تمویلېږي، بشپړې شوي یا د جوړولو په حال کې دي.

همدارنګه د بدخشان په ولایت کې د اسلامي امارت له بودجې څخه د ۸ میلیونه ۵۰۹ زره او ۷۹۷ افغانیو په ټولیز لګښت د تعلیمي ادارو د بیارغوني ۱۲ پروژې او د همکارو ادارو لخوا د ۳۲ میلیونه ۲۰۶ زره او ۹۷۰ افغانیو په لګښت د ودانولو او بیارغوني په کډون ۱۹ پروژې بشپړې شوي یا هم د بشپړېدو په حال کې دي.

د پوهنې وزارت داد ورکوي چې د ملک د ټولو ماشومانو زده کړې ته د لاسرسي په موخه به هغوی ته لا زیاتې آسانتیاوې برابرې کړي.

## دیدار معین محترم تعلیمات اسلامی با هیئت بازنگری پارچه‌های امتحان مشترک مدارس

محترم الحاج مولوی کرامت الله آخندزاده معین تعلیمات اسلامی وزارت معارف در دیدار که با هیئت بازنگری پارچه های امتحان مشترک مدارس داشت ضمن ارائه هدایات لازم به اعضای این هیئت افزود: امتحانی که از طالب اخذ شد، برای همه ی ما یک امانت است و باید از روی صداقت و عدالت برای هر طالب به اساس توانمندی و استعداد وی نمره داده شود.

او همچنان گفت در صورت غفلت و بی پروایی این روند باعث نابرابری و بی اعتمادی میان طُلاب شده و صدمه بزرگ به نظام تعلیمی وارد می کند.




در پایان این دیدار معین محترم تعلیمات اسلامی مشکلات و چالش های فرا راه هیئت را شنیده و در رابطه به حل آن با هیئت یاد شده بحث همه جانبه و تبادل نظر صورت گرفت .

گفتنیست که طبق لایحه معینیت تعلیمات اسلامی وزارت معارف همه ساله امتحانات مشترک مراحل ثانویه و مافوق ثانویه مدارس هم زمان در داخل و دارالهجرت اخذ می شود. که به هدف تأمین شفافیت در روند بررسی پارچه های جوابات طُلاب و عدالت در نمره دهی، کمیته صد نفری از سوی معینیت تعلیمات اسلامی توظیف شده است.

## اتمام کار بازسازی ۱۲ تعمیر اداری و مراکز تعلیمی به هزینهٔ ۶،۵ میلیون افغانی در ولایت لوگر

کار بازسازی ۱۲ باب ساختمان اداری و تعلیمی مربوط ریاست معارف در ولایت لوگر تکمیل وبه بهره برداری سپرده شد.

این پروژه ها شامل بازسازی ساختمان اداری ریاست معارف، بازسازی ساختمان دو باب مدرسه دینی و ۹ باب مکتب میباشد که از بودجه وزارت معارف به هزینه ۶.۵ میلیون افغانی در مدت سه ماه تکمیل شده‌است.

به گفته مسئولان معارف آن ولایت با ترمیم نهاد های یاد شده، زمینه‌ی مناسب آموزشی برای نزدیک به ۱۰ هزار طالب العلم و شاگردان فراهم شده است.

قابل یادآوری است که هم اکنون در این ولایت با حمایت مالی یکی از نهاد های همکار با معارف، کار بازسازی ۴۹ باب مکتب و سایر ادارات معارف نیز با هزینه‌ی ۳۶ میلیون افغانی جریان دارد.



## در این شماره

د زده کړې په بهیر کې د کتاب ارزښت او د هغه ساتنه — ۲ مخ
آغاز کار ساخت دیوار احاطه یک باب مکتب در ولایت ننگرهار — صفحه ۲
نبوي ملغلرې — ۳ مخ

سرمقاله

# د زده کړې په بهیر کې د کتاب ارزښت او د هغه ساتنه

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلحَمدُلِلّهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِالمُرسَلِینَ وَ عَلَی آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِیْنَ

کتاب د علم د زده کړې تر ټولو مهمه او باوري سرچینه ده. له هغه وخته چې انسان د لیک او لوست له نعمت څخه برخمن شوی، کتاب د فکر، تجربې او پرمختګ د لېږد وسیله پاتې شوې ده. کتاب د زده کړې په بهیر کې بنسټیز رول لري، ځکه بې له کتابه زده کړه نیمګړې او له ژورې پوهې بې‌برخې وي. کتاب انسان له ناپوهۍ څخه د پوهې پر لور رهبري کوي. د کتاب په وسیله زده کوونکی د بېلابېلو علومو، هنرونو او ژوندیو تجربو سره آشنا کېږي. کتاب د انسان ذهن روښانوي، د فکر کولو ځواک یې پیاوړی کوي او د سم او ناسم ترمنځ د توپیر ورتیا وربښي. هغه زده کوونکی چې له کتاب سره مینه ولري، د خبرو کولو، لیکلو او تحلیل کولو په برخه کې هم پیاوړی کېږي. سربېره پر دې، کتاب د اخلاقو او شخصیت د جوړولو مهمه وسیله ده. په کتابونو کې د رښتینولۍ، زغم، مینې او انساني ارزښتونو بېلګې شته چې د زده کوونکي پر ژوند ژور اغېز کوي. کتاب انسان ته دا ورزده کوي چې څنګه له ستونزو سره مقابله وکړي او څنګه یو مسئول او ګټور وګړی شي.
کتاب د وخت تر ټولو غوره ملګری دی. هغه وخت چې انسان له کتاب سره تېروي، هېڅکله نه ضایع کېږي، بلکې د پوهې په پانګه بدلېږي چې ټول عمر ورسره مرسته کوي. کتاب د انسان ذهن له بې‌ګټې مصروفیتونو ژغوري او د پرمختګ او بریا پر لور یې هڅوي.
کله چې د کتاب ارزښت دومره لوړ وي، نو ساتنه یې هم ډېر اهمیت لري. کتاب یوازې د یو زده کوونکي شخصي ملکیت نه دی، بلکې د ټولنې علمي شتمني ده. ډېری کتابونه د دولت، ښوونځي یا کورنۍ له لوري برابر شوي وي، نو له هغوی ساتنه یو اخلاقي، تعلیمي او ملي مسئولیت ګڼل کېږي. هغه زده کوونکی چې خپل کتابونه خرابوي، په حقیقت کې د علم بې‌احترامي کوي او خپلې زده کړې ته زیان رسوي. برعکس، هغه زده کوونکی چې له خپلو کتابونو ښه ساتنه کوي، دا ښیي چې هغه د پوهې ارزښت درک کړی او خپل راتلونکي ته ژمن دی.
زده کوونکی باید خپل کتابونه پاک او منظم وساتي، او بې‌ځایه لیکنې پکې ونه کړي. کتابونه باید په مناسب پوښ وپوښل شي او له اوبو، دوړو، اور او لمر څخه خوندي وساتل شي. همدارنګه، کتابونه باید په بکس یا الماری کې په احتیاط کېښودل شي او د لوبو یا بې‌احتیاطۍ لپاره ترې کار وانه خیستل شي. که کتاب له بل چا سره شریک کېږي، باید په ښه حالت بېرته واخیستل شي، ځکه کتاب امانت دی او د امانت ساتنه د انسان د پوهاوي او اخلاقو نښه ده.
په پای کې ویلی شو چې کتاب د زده کړې زړه، د پوهې رڼا او د بریا لارښود دی. که زده کوونکي کتاب ته درناوی وکړي او له هغه ښه ساتنه وکړي، نو نه یوازې خپله زده کړه به پیاوړې کړي، بلکې په ټولنه کې به د علم او پوهې درناوی هم ژوندی وساتي. راځئ چې کتاب د خپل راتلونکي د جوړولو وسیله وګڼو او له هغه داسې ساتنه وکړو لکه له یوې قیمتي پانګې څخه، ځکه د نن کتاب د سبا بریا ده.

## په جوزجان ولایت کې د خلکو په مالي مرسته د یو باب ښوونځي د بنسټ ډبره کېښودل شوه

د جوزجان ولایت، مردیان ولسوالۍ اړوند د جنګل‌اریغ وطني لومړني ښوونځي لپاره د ودانۍ د جوړېدو د بنسټ ډبره د یاد ولایت د پوهنې ریاست مسئولینو له لوري کېښودل شوه.
په یادو مراسمو کې د جوزجان ولایت د پوهنې رئیس الحاج مولوي لعل‌جان راشد، یو شمېر علماءکرامو، سیمه‌ییزو مشرانو او د ښوونځي کارکوونکو ګډون کړی و.
د جوزجان ولایت د پوهنې رئیس د معلوماتو له مخې د ښوونځي دغه ودانۍ به څلور درسي خونې ولري چې د ځایي اوسېدونکو په مالي مرسته جوړېږي، دده په خبره د یاد ښوونځي ودانۍ په جوړېدو سره به د سیمې په سلګونو تنه زده کوونکو ته د زده کړې مناسب او خوندي چاپېریال را منځ ته شي.
نوموړي همداراز د سیمې اوسېدونکو له مرستې هم مننه وکړه او له نورو هېوادوالو یې هم وغوښتل چې د معارف په وده او پرمختګ کې چې د ټولو ګډ مسئولیت دی مرسته وکړي.

## د ښوونکو او زده‌کوونکو لپاره د احصائیوي فارمټ نوی سیستم پرانیستل شو

د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین معینیت لخوا د ښوونیزو مرکزونو د ښوونکو او زده‌کوونکو د دقیقو احصائیو او ارقامو درلودلو په موخه، د معلوماتو مدیریت سیستم (EMIS) کارپوهانو په مرسته د ښوونکو او زده‌کوونکو د احصائیو راټولولو او ثبت لپاره یو نوی سیستم جوړ او پرانیستل شو.
د یاد سیستم د پېژندګلوۍ په مراسمو کې، د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین معین محترم الحاج مولوي عبدالخالق صادق، د پلان جوړونې په بهیر کې د احصائې برخه ګټوره وبلله او ویې ویل: د تعلیمي پروګرامونو پلي کولو لپاره دقیقو احصائیو ته جدي اړتیا ده، چې له نېکه‌مرغه د نوي سیستم په فعالیت سره به د پورته مسایلو په عملي کولو کې ډېره چټکتیا او آساني رامنځ ته شي.
ورپسې د پوهنې وزارت د معلوماتو مدیریت سیستم رئیس محترم مولوي بسم الله نعماني او د کابل ښار پوهنې رئیس محترم مولوي جنت ګل عزیز هم د موضوع په اړه خبرې وکړې او د ګډونوالو لپاره یې د یاد فارمټ آسانتیاوو په اړه مفصل معلومات وړاندې کړل چې د ګډونوالو له خوا یې په پراخه کچه هرکلی وشو.

## آغاز کار ساخت دیوار احاطه یک باب مکتب در ولایت ننگرهار



کار اعمار دیوار احاطه لیسه غزگی در مربوطات ولسوالی مهمند دره ولایت ننگرهار به هزینه ۱.۲۷ میلیون افغانی از بودجه وزارت معارف با حضور مسئولان معارف و بزرگان ولسوالی مذکور آغاز شد.
به گفته مسئولان معارف ولایت یاد شده، لیسه مذکور در زمینی به مساحت ۱۳ بسوه ساخته شده که با اعمار دیوار احاطه، محیط امن و مصئون تعلیمی برای شاگردان مکتب مذکور فراهم می شود.

## په لغمان کې د کډوالو ماشومانو د تعلیمي کچې معلومولو آزموینه ترسره شوه




د لغمان ولایت پوهنې ریاست مسئولین وایي چې د ۱۴۰۴ لمریز کال په اوږدو کې د ۵۴۹ تنو کډوالو ماشومانو څخه چې یاد ولایت ته راستانه شوي وو، د سویې د تثبیت آزموینه واخیستل شوه ترڅو هغوی تر ارزونې وروسته ښوونځیو ته معرفي او خپلو زده‌کړو ته دوام ورکړي.
همداراز د یاد ریاست، د ۵۲۸ تنو حافظانو تعلیمي اسناد وارزول او د هغوی اسناد د نورو رسمي پړاوونو لپاره مرکز ته واستول شول.

## اهدای ۲.۶ جریب زمین از سوی وزارت زراعت، آبیاری و مالداری به وزارت معارف

وزارت زراعت، آبیاری و مالداری به هدف ساخت یک باب مکتب در ولایت کنر ۲.۶ جریب زمین را به وزارت معارف اهدا نمود.
در نشستی که به همین مناسبت در ریاست توزیع و انتقال زمین اداره اصلاحات اراضی، وزارت زراعت، آبیاری و مالداری به اشتراک محترم مولوی سمیع الحق حماس رئیس حفظ و مراقبت تأسیسات و املاک وزارت معارف و محترم حافظ عبدالکبیر زاهد رئیس انتقال و توزیع زمین اداره اراضی دایر شده بود بر اساس حکم مقام عالی رهبری امارت اسلامی افغانستان مبنی بر حمایت و توسعه زیر ساخت های تعلیمی، وزارت زراعت آبیاری و مالداری به مساحت ۲،۶ جریب زمین را در ولسوالی کوز کنر ولایت کنر به هدف ساخت یک مکتب در ولسوالی یاد شده در اختیار وزارت معارف گذاشت و اسناد آن از سوی روئسای یاد شده هر دو وزارت به امضا رسید.

## د خلکو له لوري په پکتیکا ولایت کې له یو شمېر تعلیمي مرکزونو سره د ۳.۵ مېلیونه افغانیو مرسته شوې

د پکتیکا ولایت پوهنې ریاست مسئولینو په وینا، د روان کال (۱۴۰۴ لمریز) له پیل را هیسې تر دې مهاله د ارګون ولسوالۍ د والدینو شوراګانو، اوسېدونکو او خیریه ادارو لخوا، د همدغې ولسوالۍ له تعلیمي مرکزونو سره ۳.۵ مېلیونه افغانۍ مرستې شوې دي.
د یاد ولایت پوهنې رئیس محترم مولوي عبدالوکیل خالد د خلکو له همکارۍ مننه وکړه او څرګنده یې کړه چې، د پوهنې وزارت هڅه کوي تر خپله وسه امکاناتو په پام کې نیولو سره د مدارسو او ښوونځیو ستونزې حل کړي؛ خو د نوموړي په وینا، د خلکو همکاري او ملاتړ د زده کړې بهیر په پیاوړتیا او معیاري کولو کې مهم رول لوبوي.

**د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین محترم معین ...**

همداراز د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین محترم معین د یاد ولایت له والي محترم الحاج ملا عبدالصمد جاوید سره هم وکتل، په دې لیدنه کې د پوهنیز نظام په پیاوړتیا، د تعلیمي ادارو ملاتړ او د اړوندو ادارو ترمنځ د همغږۍ پر ارزښت د دواړو لوریو تر منځ بحث وشو چې په پای کې د غزني محترم والي له لوري د پوهنې وزارت د تضمین کیفیت محترم معین ته د بشپړ ملاتړ او همکارۍ ډاډ ورکړل شو.

# لنډ خبرونه

**کندهار**

د کندهار ښار په عينو مېنه کې د عبدالله ابن عباس ښوونځي لپاره يوه نوې ودانۍ د ۷ ميليونه ۲۱۵ زره افغانيو په لګښت جوړه او ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه.
ياده تعليمي ودانۍ د يوې همکارې بنسټ په مالي ملاتړ جوړه شوې، چې شپږ درسي ټولګي، يوه اداري خونه، احاطوي دېوال، د پاکو اوبو څاه، د سولري برېښنا سيستم او نور اړين ملحقات لري.

**جوزجان**

د جوزجان ولايت درزاب ولسوالۍ د کومرليک کلي اوسېدونکو "امداد العلوم" ديني مدرسې ته څه د پاسه ۵۰۰ زره افغانيو په ارزښت ۵ جريبه ځمکه وقف کړې ده، د جوزجان ولايت د پوهنې رياست د مسئولينو په وينا، دغه اقدام به په محرومو سيمو کې د پوهنې په پراخولو کې مهم رول ولوبوي.

**غور**

از طرف رياست معارف ولايت غور جهت بلند بردن دانش مهارتی و حرفوی برای ۱۲۰ تن آموزگاران مکاتب ولسوالی های تولک و ساغر اين ولايت به کمک مالی يکی از نهاد های همکار با معارف سيمينار ميتوديک تدوير يافت.

**پکتيکا**

په ارګون ولسوالۍ کې د رحمانيه ديني مدرسې نوې ودانۍ، چې د سيمه ييزو سوداګرو او خلکو په مالي مرسته د ۲ مېليونه افغانيو په لګښت جوړه شوې وه، د يو لړ مراسمو په ترڅ کې پرانيستل شوه.
د ياد ولايت پوهنې رئيس محترم مولوي عبدالوکيل خالد د دغې مدرسې جوړول د ښونيزو ادارو د پياوړتيا لپاره يو مهم ګام وباله او د خلکو او سوداګرو له همکارۍ څخه يې مننه وکړه.

**زابل**

د زابل ولايت سيوري ولسوالۍ خلکو د امالقراء ديني مدرسې جوړولو لپاره په ټوليزه توګه ۱۸۰ زره افغانۍ مرسته کړې، چې د يو جريب ځمکې په ساحه کې به جوړه شي.ياده مدرسه به له ټولو اړتياوو سره سم ۴ درسي خونې ولري.اوس مهال، په دې مدرسه کې ۲۲۰ تنه طلاب العلم په زده کړو بوخت دي.

**فارياب**

محترم مولوی عبدالله رحمانی طی مراسم که در آن شماری از مسئولان رياست معارف، علماءکرام و مسئولان ساير ادارات حضور داشتند از سوی محترم الحاج مولوی نصرت الله فيضانی معاون مقام ولايت فارياب به حيث رئيس جديد معارف آن ولايت معرفی و رسما آغاز به کار کرد.

**ننګرهار**

د ننګرهار ولايت رودات ولسوالۍ له کان لېسې سره، د يو تن علم دوسته شخص لخوا ۲۱۰۰۰ افغانۍ مرسته ترسره شوه.
د يادې ولسوالۍ پوهنې مسئولينو ډاډ ورکړ چې دغه پيسې به د يادې لېسې د ترميم او تجهيز لپاره ولګول شي.

# نبوي ملغلرې

### خپله غصه کنټرولول

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ليس الشديد بالصرعة، إنما الشديد الذي يملك نفسه عند الغضب.
(رواه البخاري ج ۸ / ص ۲۸ / رقم ٦١١٤)
له حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: پهلوان هغه نه دی چې خلک راپرځوي، بلکې پهلوان هغه دی چې خپله غصه تر کنټرول لاندې راولي.

***

### په ژمي کې روژه نيول

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: الغنيمة الباردة الصوم في الشتاء.
(رواه الترمذي ج ۲ / ص ۱۵۲ / رقم ۷۹۷)
ژباړه: يخ غنيمت (بې تکليفه ثواب حاصلول) په ژمي کې روژه نيول دي..
تشريح: يعني په ژمي کې روژه نيول آسانه وي ځکه نه د ګرمۍ تنده وي او نه د اوږدې ورځې لوږه وي. ورځې يې د روژې لپاره لنډې او شپې يې د عبادت لپاره اوږدې وي. (مرقاة)

### د غصې پرېښودل

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَوْصِنِي ، قَالَ: لَا تَغْضَبْ ، فَرَدَّدَ مِرَارًا قَالَ: لَا تَغْضَبْ .
(رواه البخاري ج ۸ ص۲۸ رقم ۶۱۱۶)
ژباړه: يو سړي نبي ﷺ ته وويل: ماته نصيحت وکړه.
هغه ﷺ وفرمايل: غصه مه کوه.
سړي څو ځله تکرار کړه، خو نبي ﷺ همدا ويل: غصه مه کوه.
تشريح: دا حديث څرګندوي چې د انسان د ډېرو ګناهونو او ستونزو ريښه غصه ده. که څوک خپله غصه کنټرول کړي، نو ډېر بد کارونه به ترې خوندي شي.

***

### روژه د نفس روزنه

عن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ ، مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمُ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ ، وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ؛ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ.
(رواه البخاري ومسلم ج۷ ص۳ رقم ۵۰۶۵)
ژباړه: ای د ځوانانو ډلې!
څوک چې د نکاح توان لري، واده دې وکړي، او څوک چې يې نه لري، نو روژه دې نيسي، ځکه روژه د شهوت ماتونکې ده.
تشريح: روژه د نفس د کنټرول، پاکدامنۍ او صبر تر ټولو قوي وسيله ده. په ځانګړي ډول ژمی کې دا عبادت اسانه او ډېر ګټور وي.

***

### سه علامت ايمان

«مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْراً أَوْ لِيَصْمُتْ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيُكْرِمْ جَارَهُ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ».
(رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ ).
کسی که ايمان به خدا و روز قيامت دارد، بايد سخن نيك بگويد، يا خاموش و ساکت شود، و کسی که ايمان به خدا و روز قيامت دارد، بايد همسايه خود را گرامی بدارد، و کسی که ايمان به خدا و روز قيامت دارد، مهمان نوازی کند.

## برنامه برای حس خوب و مراقبت از خود

همیشه قران کریم تلاوت کن.

نماز را به جماعت اداء کن.

با کسانی که به کمک تو احتیاج دارند کمک کن.

چیزی که احتیاج نداری را بخشش کن.

به چیزهایی که واقعاً نمی خواهی نه بگو.

سعی کن زودتر بخوابی و زودتر بیدار شوی.

یک برنامه غذایی سالم برای خودت بنویس.

همیشه کارهای داوطلبانه و خیر انجام بده.

همیشه به خاطر داشته هایت از خداوند جل جلاله شکرگزار باش.

همیشه صبر را پیشه کن.

با دوستان نیک تان همیشه در تماس باشید.

همیشه اخلاق نیک را مراعات کن.

## تا حالا احساس کردید با وجود که استراحت کافی می کنید باز هم احساس خسته گی می کنید؟

حقیقت این است که ما در دنیایی زندگی می‌کنیم که جسم ما در یک مکان، اما ذهن ما فرسنگ‌ها دورتر سیر میکند. سر میز غذا نشستیم اما به جلسه‌ی کاری فردا فکر می‌کنیم؛ در رختخواب دراز کشیدیم اما نگران کارهای نکرده‌ی امروز هستیم. این شکاف عمیق بین «جسم» و «ذهن»، همان دلیلی است که احساس می‌کنیم چیزی سر جای خودش نیست.
این عدم هماهنگی، انرژی درونی ما را میبلعه؛ وقتی کار می‌کنیم اما فکر ما پیش استراحت است، در این صورت نه کار باکیفیتی انجام می‌دهیم و نه هم لذتی از انجام کارهای نیک و خوب می‌بریم.
در لحظه بودن یک مهارت عالی نیست، بلکه تنها راه بازگرداندن تعادل به زندگی است.
تمام هنر زندگی در همین کلمه خلاصه میشود: «فقط». وقتی چای می‌نوشید فقط چای بنوشید و عطر اش را حس کنید. وقتی راه میروید، فقط راه بروید و قدم‌های تان را احساس کنید. وقتی این هماهنگی رخ بدهد، دیگر مدت زمان استراحت مهم نیست، بلکه کیفیت بازیابی انرژی شما به طرز شگفت‌انگیزی تغییر کرده است.




## د اخلاقو ډولونه

اخلاق په درې ډوله دي چې په لاندې ډول يې واضح کوو:
۱ ـ اخلاق حسنه
۲ ـ اخلاق کريمه
۳ ـ اخلاق عظيمه
۱ ـ اخلاق حسنه: دې ته وايي چې يو څوک نقصان در ورسوي، په هماغه اندازه غچ ترې واخلې په کومه اندازه چې نقصان درته رسېدلی دی.
۲ ـ اخلاق کريمه: دې ته وايې چې يو څوک نقصان درته ورسوي، غچ ترې وانه خلې او يوازې د الله تعالی د رضا لپاره يې معاف کړې.
۳ ـ اخلاق عظيمه: دې ته وايي چې يو څوک نقصان درته ورسوي، د غچ د نه اخستلو سربېره ښه هم ورسره وکړې.
ياالله ﷻ موږ ټولو ته اخلاق عظيمه رانصيب کړه.

## بهترین الگو

از روانشناسی پرسیدند:

بهترین الگو برای پیروی درزندگی چیست؟

گفت: «کودکان» بهترین الگو هستند. گفتند:

کودکان که هیچ نمی‌دانند.

گفت: سخت در اشتباه هستید.

کودکان شش خصوصیت دارندکه نباید هیچ‌گاه فراموش کرد .

اول اینکه، همیشه بی‌دلیل شاد هستند.

دوم اینکه، همیشه سرشان به کاری مشغول است.

سوم اینکه، وقتی چیزی را میخواهندتا بدست نیاورند دست از اصرار بر نمی‌دارند .

چهارم اینکه، به هیچ چیز دل نمی‌بندند.

پنجم اینکه، وقتی با هم دعوا می‌کنند سریع آشتی می‌کنند و از هم کینه به دل نمی‌گیرند.

ششم اینکه، به راحتی گریه می‌کنند.

# Marif
Weekly

کتنپلاوی: شیخ محمد طاؤس «طارق»
مولوي عزیز احمد «ریان»
مفتی حبیب الله «قتاده نوري»
احمد شعیب «حقیقي»
عبدالصبور «غفراني»
محمد نسیم «عیاذ»
مسئول مدیر: سعید «جلال»
انځور اخیستونکی: محمد ادریس «نوري»

صفحه آرا : محمد قسیم «یعقوبي»
شمېر : ۳۰۰۰
پته: کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمریت
**د پوهنې کاروان مینه والو!**
تاسو کولای شئ خپلې لیکنې، وړاندیزونه او نیوکې په لاندې برېښنا لیک او تلیفون شمېرې له موږ سره شریکې کړئ.
Marifnewspaper1919@gmail.com
د اړیکې شمېره: ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 318 /2026



# د پکتیکا ولایت یو شمېر علماءکرامو د پوهنې وزارت د اسلامي زده‌کړو له محترم معین سره وکتل

د پکتیکا ولایت یو شمېر علماءکرامو د پوهنې وزارت د اسلامي زده‌کړو له معین محترم الحاج مولوي کرامت الله آخندزاده سره په خپل کاري دفتر کې وکتل او د بېلابېلو موضوعاتو په اړه یې هر اړخیزه خبرې وکړې.

په دې لیدنه کې د پوهنې وزارت محترم معین د خپلو خبرو په ترڅ کې د ټولنې د اصلاح په برخه کې د علماءکرامو فعالیتونه ګټور وبلل او په دې برخه کې یې د هغوی هڅې وستایلې.

همداراز یو تن دیني عالم د نورو په استازیتوب، د پوهنې له محترم معین سره د لیدنې څخه خوښي څرګنده کړه او د خپل اړوند ولایت د ښوونیزو او روزنیزو ادارو، په ځانګړې توګه د اسلامي زده‌کړو په مرکزونو کې د یو شمېر ستونزو په اړه یې د وزارت له محترم معین سره خپل معلومات شریک کړل، چې د اسلامي زده‌کړو محترم معین له لوري ورسره د ستونزو په حل کې د همکارۍ ژمنه وشوه.

# نشست معین محترم تضمین کیفیت در رابطه به طرح سیستم دومین با نماینده گان شماری از وزارت‌ها



نشستی به رهبری محترم الحاج مولوی عبدالخالق صادق، معین تضمین کیفیت وزارت معارف، در رابطه به طرح سیستم دومین (domain) ریاست نتایج و شهادت‌نامه‌ها برگزار شد که در آن نمایندگان وزارت‌های مخابرات، امور خارجه، کار و امور اجتماعی، عدلیه، تحصیلات عالی و اداره ملی احصائیه حضور داشتند.

در این نشست، روی اهمیت این طرح، شفافیت امور اداری، تعهد و سهولت‌ها تأکید شد.

رئیس نتایج و شهادت‌نامه‌ها، محترم مولوی عبدالقدیم محمد آخندزاده، در سخنانش گفت که تطبیق سیستم دومین در سطح ملی و بین‌المللی نقش مؤثری در تأیید آنلاین، شفافیت، صرفه‌جویی در وقت و نظم اداری ایفا خواهد کرد.

# د ښوونې او روزنې محترم معین په مشرۍ د تدریساتو کمېسیون نوبتي غونډه ترسره شوه

د پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې معین محترم شیخ عبدالمالک حقاني په مشرۍ د تدریساتو کمېسیون ۱۰۰ مه نوبتي غونډه ترسره شوه، چې پکې د کمېسیون غړو او د ۱۲ مرکزي ریاستونو استازو ګډون کړی و.

غونډه د قرآن کریم د مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل او د اجنډا له مخې د اړوندو موضوعاتو په اړه بحث وشو.

په دې غونډه کې د مراجعینو د ستونزو او غوښتنو په اړه تفصیلي خبرې ترسره او په دې برخه کې ۲۸ پرېکړې د اجرا لپاره اړوندو مراجعو ته وسپارل شوې.

# ایجاد صنف کمپیوتر برای یک باب مکتب در پکتیا

به حمایت مالی محترم الله‌محمد غضنفریک تن از ورزش کاران ولسوالی زرمت ولایت پکتیا، برای لیسهٔ حبیب‌الله زرمتی به هزینهٔ ۳۵۰ هزار افغانی، صنف مجهز کمپیوتر با تمام ملحقات لازم آن از جمله سیستم برق آفتابی ایجاد و طی مراسمی افتتاح شد.

در این مراسم علاوه از محترم الحاج مولوی عبدالقیوم فاروقی، رئیس معارف پکتیا، شماری از مسئولان ادارات محلی و متنفذین محل نیز حاضر بودند.

رئیس معارف آن ولایت از این اقدام قدردانی کرده، آن را گامی مثبت در راستای بلند بردن کیفیت آموزش دانست و افزود: که با در نظر گرفتن مقتضیات عصر حاضر، نیاز به وسایل و تجهیزات تکنالوژی بیش از پیش احساس می‌شود.

قابل یادآوری است که پیش از این نیز در این ولایت، با همکاری سرمایه‌داران و تجار محلی، برای ۱۰ باب مکتب صنف‌های کمپیوتر ایجاد شده بود.



# کار بازسازی ۷ باب مکتب در ولایت هرات تکمیل و به بهره برداری سپرده شد



کار ترمیم و بازسازی ۷ باب مکتب به هزینهٔ ۱۷ میلیون و ۵۰۷ هزار افغانی به همکاری یکی از نهادهای همکار با معارف در ولسوالی‌های رباط سنگی و انجیل ولایت هرات تکمیل و با حضور مسئولان ریاست معارف آن ولایت به بهره برداری مجدد سپرده شدند.

محترم مولوی رحمت‌الله جابر رئیس معارف ولایت هرات، ضمن ابراز خرسندی از تکمیل کار بازسازی مکاتب یاد شده گفت: با تطبیق پروژه‌های ترمیماتی محیط مناسب و مصئون برای هزاران شاگرد در ولسوالی های یاد شده فراهم شده. وی همچنان بر تداوم روند نو سازی و بازسازی مراکز تعلیمی در سایر نقاط آن ولایت تأکید کرد.

# د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست پلاوي د لوګر ولایت د پوهنې ریاست له مسئولینو سره وکتل




د محترم مولوي بسم الله حسان په مشرۍ د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست پلاوي، د لوګر ولایت په مرکز کې د پوهنې ریاست په منسوبینو سربېره، د امارتي او خصوصي ښوونځیو له مسئولینو سره د امربالمعروف او نهی عن المنکر د پروګرامونو او یو شمېر نورو موضوعاتو په تړاو جلا غونډې وکړې.

د دعوت او ارشاد ریاست پلاوي د یاد ریاست د پلانونو تشریح کولو پرمهال په یاد ولایت کې د خپلې اړونده اداري د لارښوونو له پلي کېدو څخه رضایت څرګند او د مسئولینو هڅې یې په دې برخه کې خورا اغېزمنې وبللې.

همدارنګه نوموړي له مسئولینو، ښوونکو او کارکوونکو وغوښتل چې خپل صورت او سیرت د رسول الله «صلی الله علیه وسلم» په مبارکو سنتو مزین کړي.

هغه د ښوونکو او د پوهنې کارکوونکو دنده یو الهي امانت وباله او روښانه یې کړه چې ښوونکي نه یوازې د ماشومانو او ځوانانو د روزلو مسئولیت لري، بلکې د هغوی د فکري، اخلاقي او مذهبي روزنې دنده هم پر غاړه لري.

په همدې حال کې د لوګر ولایت پوهنې ریاست مسئولینو پلاوي ته د ښه راغلاست ترڅنګ، وویل چې د ټولنې د اصلاح او معنوي هوساینې لپاره د دیني چارو پلي کول اړین دي.

د غونډې په پای کې د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست محترم استازي مولوي بسم الله حسان د امارتي او خصوصي ښوونځیو له ټولو مسئولینو وغوښتل چې خپل مسؤلیتونه په ښه توګه ادا کړي او د دعوت او ارشاد ریاست لارښوونې په خپلو کاري ساحو کې عملي کړي، تر څو په ټولنه کې د ناوړه کړنو او ناسمو دودونو مخنیوی وشي.

**د دستمال په مراسمو کې به د زوم له کور پرته نور مېلمانه ناوې ته د پیسو ډالۍ نه ورکوي او نه به د ناوې کورنۍ مېلمنو ته جامې او نورې ډالۍ ورکوي، البته له اسراف او ریاء پرته د مېلمنو اکرام پروا نه کوي.**

د خپښې، ودونو، مصیبتونو او همدا راز له حج او عمرې څخه د راستنېدو پرمهال د ناسمو رواجونو د مخنیوي په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی فرمان